# د لوستلو د ودې او ځارنې پلان څه شی دی؟

د لوستلو د ودې او ځارنې پلان، چې ځینې وختونه RIMP هم ورته وایي، هغه سند دی چې ښوونځي یې د دې ځارنې کولو لپاره کاروي چې ښوونځي په ځنګه د لوستلو او لیکلو مهارتونو په برخه کې د ماشوم ملاتړ وکړي، که چیرې ماشوم د خپل ټولګي د کچې د لوستلو تشخیصي آزموینه کې د ټاکل شویو نمرو برابر یا ترې پورته نمرې نه اخلي. دغه پلان په وړکتون کې پیلېږي. کولی شئ د [نمونه بیز RIMP ټیمپلیټ یا نمونه په آنلاین بڼه وګورئ](#)

د قانون له مخې، په اوهایو (Ohio) کې ټول دولتي ښوونځي باید د هغه زده کوونکي لپاره چې پر مسیر برابر نه وي (یعني د ټولګي تر کچې ټیټ لوستل کوي)، د هغه د لوستلو د تشخیص پایلو ترلاسه کولو وروسته په 60 ورځو کې دننه د لوستلو د ودې او ځارنې پلان جوړ کړي. دا د [اوهایو د دریم ټولګي د لوستلو تضمین (Ohio's Third Grade Reading Guarantee)](#) د قانون یوه برخه ده (د [اوهایو (Ohio) تعدیل شوی قانون](#) 3313.608 وګورئ).

**د لوستلو د ودې او ځارنې پلان په تړاو د مور یا پلار/سرپرست په توګه زما دنده څه ده؟**

1. **یاد پلان ستاسو لپاره یو فرصت دی چې له ښوونځي سره په ګډه کار وکړئ.** ستاسو ښوونځي ولسوالی له قانوني پلوه اړ ده چې تاسو او ستاسو د ماشوم د ټولګي ښوونکی د پلان په جوړولو کې شامل کړي. په پلان کې باید د لوستلو او لیکلو هغه ملاتړ ذکر شي چې ستاسو ماشوم به یې ترلاسه کوي. په پلان کې ذکر شوی ملاتړ باید ستاسو د ماشوم د لوستلو او لیکلو معلوماتو او په دې اړه ستاسو د نظرونو پر اساس وي چې ماشوم مو غوره زده کړه ځنګه کوي.
2. **دا پلان یو لیکل شوی سند وي چې ستاسو د ماشوم د پرمختګ او د وخت په تېرېدو سره د ښوونځي لخوا چمتو شوو ملاتړونو ځارلو کې به له تاسو سره مرسته وکړي.** RIMP به له وړکتون څخه تر 12 ټولګي پورې ستاسو د ماشوم د اکادمیک مسیر په اوږدو کې په دوامداره توګه نوی کیږي او کارول کیږي، تر هغه وخته چې هغه د ټولګي د کچې سره سم لوستل زده کړي.
3. **دا چې دا پلان د هغو مشخصو مهارتونو په اړه ځانګړی دی چې ستاسو ماشوم باید پرې کار وکړي، نو تاسو هم کولی شئ چې د ښوونځي تر وخت بهر د یادو مهارتونو په تمرین کې له خپل ماشوم سره مرسته وکړئ.**

**ټیلګه**

د یو ماشوم د لوستلو د تشخیصي آزموینې پایلې ښیي چې یاد ماشوم د کلمو د لومړنیو غږونو د لوستلو لپاره لا زیات ملاتړ ته اړتیا لري. د ماشوم د ملاتړ لپاره یو پلان (RIMP) لیکل کیږي او د ماشوم له والدینو سره شریکیږي.

----

ښوونکی او والدین سره ګوري او له دوی څخه هر یو د یاد پلان لپاره، په دې اړه نظرونه شریکوي چې ځنګه د ښوونیزې ورځې په بهیر کې د دغه غږونو او تورو په تمرین کې د ماشوم ملاتړ وکړي. دغه راز دوی دا هم پلان کوي چې دوی به کله د ماشوم مهارتونه بیا وګوري او بیا به خبرې وکړي.

----

ښوونځی په پلان کې بدلونونه راولي ترڅو هغه څه پکې شامل شي چې له والدینو سره یې په لیدنه کې پرې خبرې کړې وي او د پلان یوه کاپي کورنۍ ته لیږي.

ستاسو ماشوم به د لوستلو د ودې او ځارنې پلان تر هغه وخته پورې ولري چې د ټولګي پر کچه برابر لوستل وکړي. زده کوونکي ممکن له پیل څخه تر 12م ټولګي پورې RIMP ولري. ښوونځي همدارنګه د زده کوونکو لپاره RIMP جوړولی شي، که داسې شواهد شته وي چې ښیي چې زده کوونکی په لوستلو کې مرستې ته اړتیا لري، حتی که د کال په پیل کې دغه زده کوونکی د ټولګي تر کچې لوړې نمرې هم ترلاسه کړي.

**پوښتنې لرئ؟** ThirdGradeGuarantee@education.ohio.gov ته بریښنالیک واستوئ.

Ohio Department of Education & Workforce

Ohio Statewide Family Engagement Center at The Ohio State University